# دافغانستان اسلامي امارت

## د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت

## د مساجدو او حُسَينِيو د ارشاد او انسجام لوى رياست

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد

دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

**۱۹/ ربيع الثاني/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۱۰ / ميزان /۱۴۰۵هـ، ش**

# د ټولنيزو رسنيو ناوړه استعمال، لويه ګناه، د وخت ضياع، مالي تاوان، د اخلاقو بربادي، دماغي او جسمي زيانونه له ځانه سره لري.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين، نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

فقد قال الله سبحانه وتعالى:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ * وَاتَّقُواْ فِتْنَةً لاَّ تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ).[1]

**درنو مسلمانانو ورونو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

نن زموږ د ژوند يوه مهمه موضوع د ټولنيزو رسنيو ؛ لکه فېسبوک، واټس‌اپ، ټيکټاک، يوټيوب، انسټاګرام او نورې رسنيو د ناوړه استعمال د خطرونو بيانول دي.

ټولنيزې رسنۍ د دوه مخيزې سلاح حيثيت لري، دوه مخيزه سلاح که چيرې په سمه توګه استعمال شي، نو انسان له دښمن څخه ساتي او که چيرې په ناوړه توګه استعمال شي، نو د خپل مالک لاس هم پريکوي. دا خبره په ياد ولرئ چې نن سبا ټولنيزې رسنۍ اکثره خلک په ناوړه ډول استعمالوي او ټولنيزې رسنۍ نن سبا د ټولنې د تباهۍ لامل او د ټولو فتنو منبع ګرځيدلي دي.

مونږ علماء تاسې ته ددې منبر څخه آواز کوو چې ددې تباه کوونکې وسيلې د زيانونو څخه ځانونه او خپل اولادونه وساتئ. او نن ورځ غواړو چې د ټولنيزو رسنيو د ناوړه استعمال تباه کوونکې زيانونه له تاسو سره شريک کړو :

## لومړی: د ټولنيزو رسنيو ناوړه استعمال، لويه ګناه ده:

دا ډير د تأسف ځای دی هغه ټولنيزې رسنۍ چې د علمي معلوماتو  او ضرورت د رفع کولو  لپاره ديوې وسيلې په توګه ايجاد شوی وې ، نن سبا يې مسلمانان د ګناه، د فحشاوو د خپرولو، د درواغو او افواهاتو خپرولو  او نورو مفاسدو لپاره استعمالوي.

د هرڅه نه لومړی بايد مونږ او تاسې په دې باور او عقيده ولرو، چې الله جل جلاله زمونږ په ښو او بدو  حاضر او ناظر دی او هر څه ويني او ګوري يې او زمونږ د ښو او بدو د ليکلو لپاره يې ملائکې مقرري کړي دي؛ لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي:(مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ).(۲)

---

[1] -الانفال: (۲۵)

[2]- ق:( ۱۸)

ترجمه: نه وايي دغه بنده هيڅ خبره مگر خو وي له ده څخه دوه ساتونکي حاضر او تيار چې ژر يې وليکي.

په بل مبارک آيت کې راځي:(وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ * كِرَاماً كَاتِبِينَ * يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ).(٣)

ترجمه: حال دا چې بېشکه په تاسې باندې خامخا ساتونکې ملائکې (د عمل ،مقررې دي) عزتمنې (په نزد د الله) ليکونکي (د اعمالو ستاسې). پوهيږي (دغه ملائک) په هغه څه چې کوی يې تاسې.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه د دې آيت {مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ} په تفسير کې وايې: ليکي ټول هغه څه چې ته ورباندې تکلُّم کوی که هغه خير وي او که شر وي ؛ آن تر دې چې دا هم ليکي چې کله انسان داسې ووايي:( خوراک مې وکړ، څښاک مې وکړ، لاړم، راغلم ، ومې ليدل) او کله چې د پنجشنبې مازيگر شي ، نو ټول الله تعالی ته پيش کړل شي .[٤]

لکه څنگه چې د خولې خبرې ليکل کيږي، همدارنگه هغه ليکنه چې موږ يې په ټولنيزو رسنيو کې خپروو، تبصره پرې کوو، شريکوو او نورو ته يې لېږو، نو دا ټول زمونږ په عملنامه کې ليکل کيږي. ځينې خلک وايي: ما خو ددرواغو ، د گناه خبره په ټولنيزو رسنيو کې نه ده ليکلې، ما خو هغه يوازې شريکه کړې ده! خو مسلمان بايد په دې پوه شي چې د حرام او دروغجن مطلب شريکول هم د هغه په خپرولو کې گډون دی. رسول الله ﷺ فرمايلي دي: « كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ ».(٥)

ژباړه: د انسان لپاره همدومره درواغ کافي دي چې بيانوي هر څه چې واوري.

همدارنگه هره خبر چې په فيسبوک ، ټويټر ، انسټگرام، ټيک ټاک او نورو ټولنيزو رسنيو کې ووينې پرته له حقيقت معلومولو په هغې باور کوي او هغه نشروي، چې دا کار لويه گناه ده . مسلمان لره په کارده چې لومړی د خبرې حقيقت معلوم کړي او بيا ورباندې باور وکړي او که د شر خبر وي ، نو بايد نشر يې نه کړي ځکه چې د گناه خبرو نشرول د منافقينو خصلت دی.الله تعالی فرمايي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا).(٦)

ترجمه:ای هغو کسانو چې تاسو ايمان راوړی که چېرې راتگ وکړ تاسو لره فاسق او بد کار په يوه خبره سره نو تاسو ښه تحقيق پکې وکړئ.

الله جل جلاله د منافقينو په هکله فرمايي: (وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ).(٧)

ترجمه:او کله چې راشي دې ( منافقانو) ته کوم امر (خبره ) له امن (نصرت) يا (کوم خبر له) ويرې (هزيمت) نو مشهوروي دوی هغه (خبر) او که دوی و رسولې (او پرېښې) وي دا خبر رسول (د الله) ته او حاکمان خپلو ته له دوی نه نو خامخا معلوم به وي (تدبير) د دې کار هغو کسانو ته چې ايستلی (او بيلولی شي ښه له بدو) له دوی څخه (رسول الله او امراء، نو تحقيق به يې شوی وی).

---

[٣] -الانفطار:(١٠-١٢)

[٤] - تفسير ابن کثير / دار الفکر (٤ /٢٧٠)

[٥] - صحيح مسلم (١ /٨)

[٦] - الحجرات:( ٦)

[٧] -النساء: (٨٣)

نن سبا په اسلامي ټولنو کې خلک په ټولنيزو رسنيو کې دروغ او جعلي خبرونه خپروي.ځيني خلک د خلکو د خندا لپاره دروغجنې کيسې جوړوي، ځيني خلگ د ځان د مشهورېدو لپاره دروغ خپروي، او ځينې د نورو خلکو د بدنامولو لپاره ناسم معلومات خپروي او ځيني خلک په ټيک ټاکونو کې ددرواغو تحليلونه، ددرواغو قيصې ددې لپاره خپروي چې پيسې ور باندې وګټي چې دا ټول د ګناه خبرې دي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:« إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِى إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِى إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِى إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِى إِلَى النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ كَذَّابًا ».[٨]

ژباړه: بيشکه رښتيا نېکۍ ته لارښوونه کوي، او نېکي جنت ته لارښوونه کوي؛ او بيشکه يو سړی به رښتيا وايي تر دې پورې چې وليکل شي ريښتينی  او درواغ لارښوونه کوي ګناه ته او ګناه لارښوونه کوي دوزخ ته او بيشکه يو سړی به درواغ وايي تر دې پورې چې وبه ليکل شي درواغجن.

نو مسلمان بايد له ځان څخه پوښتنه وکړي چې: دا خبره چې زه يې خپروم، آيا دا خبره رښتيا ده؟ او که رښتيا هم وي آيا دا خبر چې په خلکو کې نفرت، کرکه رامنځ ته کوي ، يا په ټولنه کې بې باوري ، اضطراب ، شکست او نا اميدي خپروي دداسې خبر خپرول جواز لري؟ همدا راز د ټولنيزو رسنيو د لارې د خلکو غيبت کيږي او د خلکو سپکاوی کيږي. نن غيبت يوازې په مجلس کې نه کيږي؛ په فېسبوک، واټس‌اپ، ټيليګرام او نورو رسنيو کې هم د خلکو عيبونه بيانيږي.

د يو انسان عکس خپرول، د هغه عيبونه بيانول، د هغه د کورنۍ په اړه بدې خبرې کول، او د هغه د شخصي ژوند رازونه خلکو ته ښکاره کول ، د ټولنيزو رسنيو له لارې دخلکو يو په بل بهتانونه تړل او هغه په ټولنه کې بدنامول او د هغه سپکاوی کول، دا ټول لوی ګناهونه دي.الله تعالی فرمايي: (وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ).[٩]

ترجمه: او نه دې کوي غيبت ځيني ستاسې د ځينو نورو آيا خوښوي يو له تاسې څخه دا چې وخوري غوښې د ورور خپل حال دا چې مړ وي پس بد ګنۍ تاسې هغه (نو همدارنګه بد وګنۍ د مسلمان ورور غيبت او عيب لټول).

رسول الله ﷺ فرمايلي:« أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ ». قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ « ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ ». قِيلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِى مَا أَقُولُ قَالَ « إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ ».[١٠]

ژباړه: آيا تاسې پوهيږئ چې غيبت څه ته وايي؟ صحابه کرامو وويل: الله او دالله رسول ښه پوهيږي. بيا نبي عليه السلام وفرمايل: (غيبت) ستا يا دول د ورور خپل دي په هغه څه باندې چې هغه يې بد ګڼي. نبي عليه السلام ته وويل شول ما خبر کړه  (ای د الله رسوله په دې خبره باندې ) چې که چيرې زما په ورور کې هغه خبره وي چې زه يې وايم؟ (يعنې که زما په ورور کې هغه عيب وي چې زه وايم بيابه هم غيبت وي؟) نبي عليه السلام په ځواب کې ورته وفرمايل: که چيرې ستا په ورور کې هغه خبره وي چې ته هغه يادوې ، نو تا دهغه غيبت وکړ او که چيرې ستا په ورور کې هغه خبره نه وي او ته يې د هغه په اړه بيانوې ، نو تا په هغه پورې تهمت او بهتان وتړلو.

غيبت لويه ګناه ده، خو که پر يو مسلمان داسې تور ولګول شي چې په هغه کې نه وي، دا بهتان دی او دا لا ستره ګناه ده.
الله تعالی فرمايي:(وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا).[١١]

---

[٨] - متفق عليه .

[٩] - الحجرات:( ١٢)

[١٠] - صحيح مسلم (٨ /٢١)

[١١]- الأحزاب:( ٥٨)

ترجمه: او هغه کسان چې ايذاء رسوي مؤمنانو سړيو ته او مؤمنانو ښځو ته (په اتهام) په غيب د هغه کار چې کړی وي دوی پس په تحقيق باروي دوی په خپل ځان غټ دروغ او گناه ښکاره.

نو د يو انسان په اړه بې ثبوته تور، دروغجن پوسټ، بدناموونکی عکس يا ويډيو خپرول د مسلمان عزت پايمالول دي او په هغه بهتان لگول دي چې ډيره ستره گناه ده او ټولنېزي رسنۍ د غيبت ، تهمت، د مسلمان د سپکاوي او د هغه د عزت د پايمالولو څخه ډکې دي.

همدا رنگه په ټولنيزو رسنيو کې نامحرمو ته کتل او حرامې اړيکې ټينگول کيږي او د ټولنيزو رسنيو له لارې سړي او ښځې له يو بل سره د زنا او فحش خبرې کوي، چې دا ټول د مسلمان دين بربادوي او په گناه کې يې اخته کوي او نن سبا ځوانان په ټولنيزو رسنيو کې د نا محرمو ښځو لوڅ عکسونه، لوڅ فلمونه او سريالونه گوري او د نامحرمو ښځو سره اړيکې ټينگوي او نامحرمه ښځې د نامحرمو سړو سره اړيکې ټينگوي او فحش وينا کوي، چې ټول لوی گناهونه دي.الله تعالی سړو او ښځو ته داسې حکم کوي:(قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ * )

ترجمه: ووايه ای محمده مؤمنانو ته چې پټې کړي دوی سترگې خپلې (له نامحرمو څخه) او ښه ټينگ يې وساتي دوی فرجونه سترونه خپل( د محرماتو په مقابل کې) (وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ).[١٢]

ترجمه:ووايه ای محمده ايماندارو ښځو ته چې پټې د کړي (له نا محرمو څخه) سترگې خپلې او ښه ټينگ يې وساتي دوی فرجونه سترونه خپل( د محرماتو په مقابل کې) نو مسلمان بايد د موبايل له لارې د حرامو تصويرونو، ويډيوگانو او نامناسبو مطالبو له کتلو څخه ځان وساتي.

همدارنگه د نامحرمو نارينه‌وو او ښځو ترمنځ هغه پټې اړيکې، مينې، شهواني خبرې او پيغامونه چې شريعت يې اجازه نه ورکوي، بايد پرېښودلشي.

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايي:(وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا).[١٣]

ترجمه:او مه نيژدې کيږئ تاسې زنا ته ، ببشکه چې دا زنا ده قبيحه (عقلاً او شرعاً)،او بده ده دغه زنا له جهته د روش هم(چې زيان او فتنه ترې پيدا کيږي).

الله تعالی يوازې د زنا له کولو څخه نه دي منع کړې؛ بلکې فرمايلي يې دي: زنا ته مه نږدې کېږئ. له همدې امله مسلمان بايد هغه لارې هم پر ځان وتړي چې انسان حرامو ته رسوي او په حرامو کې يې اخته کوي.

پردو ښځو ته کتل او د پردو ښځو سره خبرې کولو ته په حديث شريف کې د زنا نسبت شوی دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« الْعَيْنَانِ تَزْنِيَانِ وَاللِّسَانُ يَزْنِي وَالْيَدَانِ يَزْنِيَانِ وَالرِّجْلَانِ يَزْنِيَانِ».(١٤)

---

[١٢] - النور:(٣٠-٣١)

[١٣] -الإسراء:( ٣٢)

[١٤] - مسند أحمد (١٤ /٤٣٧) ، مسند أحمد (١٤ /٢١٨)

ژباړه: حضرت ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: دواړه سترګې زنا کوي او ژبه هم زنا کوي او دواړه لاسونه هم زنا کوي او دواړه پښې هم زنا کوي.

د ټولنیزو رسنیو له لارې په ټولنه کې فحشاء او بې‌حیایي خپرول کیږي او په ټولنه کې ځوانان منکراتو ته مخه کوي او د خیر او فضیلت کارونه پریږدي او په ټولنه کې د خیر د کارونو ځای د شر کارونه او منکرات نیسي.

د فحشاوو په اړه الله تعالی فرمایلي دي:(إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ).[۱۵]

ترجمه:بېشکه هغه کسان چې خوښوي دغه (خبره) چې خوره شي فاحشه بد نامي په حق د هغه کسانو کې چې ایمان یې راوړی دی،شته دغو (کسانو ) ته عذاب دردناک په دنیا کې ( په حد د قذف او په بد نامی سره ) او په آخرت کې (په اور د دوزخ سره).

نو هغه څوک چې فحش عکسونه، ویډیوګانې، شهواني خبرې او بې‌حیایي خپروي، باید د دې آیت له سخت خبرداري څخه ووېرېږي.

همداراز د ټولنیزو رسنیو له لارې ځوانان او پیغلې انجونې موسیقي او د رقص او ګډا پروګرامونه تعقیبوي چې ټول حرام او د ګناه کارونه دي. الله تعالی فرمایي:(وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُواً أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ).(١٦)

ترجمه: او ( ځینې ) له خلکو څخه هغه څوک دي چې پیري عبثې خبری ( اړوونکې له حق څخه) لپاره ددې چې وه ښویوي (خلک له لارې د الله نه بې له علمه( په عاقبت د فعل خپل) او چې اونیسي دا ( لاره یا آیتونه) په ټوکو مسخرو سره دغه ( کسان) شته دوی ته عذاب سپکوونکی.

قال الحسن البصري: أنزلت هذه الآية: { وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ } في الغناء والمزامير.(١٧)

ژباړه: امام حسن بصری رحمه الله وایې: نازل شوی دی دا آیت: { وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ } په سندرو او شپیلیو کې.

په حدیث شریف کې راځي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ».(١٨)

ترجمه: خامخا زما په امت کې به داسې قومونه وي چې حلاله به ګڼي زنا او وریښم او شراب او ساز او سرود.

## دوهم: د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال د مسلمان وخت ضایع کوي.

د انسان تر ټولو قیمتي سرمایه عمر دی. پیسې بېرته ترلاسه کېدای شي، خو تېر شوی عمر بېرته نه راګرځي.

مونږ او تاسې ټول ګورو او وینو چې ځوانان او لویان د شپې او ورځې زیاته برخه وخت د ټولنیزو رسنیو په کتو کې تیروي او دا داسې ده لکه چې څوک د ژوند غتې سرمایې ته اور لګیت وهي او خپلې سرمایې ته اور ورته کړي !!!

---

۱۵ -النور:( ۱۹)

۱٦ - لقمان: (٦)

۱۷ - تفسیر ابن کثیر / دار طیبة (٦/ ٣٣١)

۱۸ - صحیح البخاري ت (١٤/ ١٦١)

ډېر د افسوس خبره ده چې نن سبا وخت مسلمان ته هيڅ ارزښت نلري او په لهو ولعب کې يې تيروي او دا کار د فسق له کارونو سره ورته والی لري.

وخت د مسلمان په ژوند کې دومره ارزښت لري چې د وخت د اهميت په وجه الله تعالی په وخت باندې قسم ياد کړی دی چې دا د وخت په اهميت او ارزښت دلالت کوي. الله تعالی فرمايي:( وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ).(١٩)

ترجمه: قسم دی په عصر. چې بېشکه انسان خامخا په زيان کې دی(په صرف کولو د عمر سره په فاني مطالبو کې) مگر (خو زيان کاران نه دي) هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه عملونه ، او وصيت يې کړی وي يو بل ته په حقه سره (چې ايمان دی)، او وصيت يې کړی وي يو بل ته په صبر (طاعت او مصيبت او له معصيته).

حافظ ابن کثير رحمه الله د (العصر) په ترجمه کې وايي:(العصر: الزمان الذي يقع فيه حرکات بني آدم من خير وشر).(٢٠)

ژباړه: عصر هغه زمانې ته ويل کيږي چې په هغې کې د بني آدم حرکات واقع کيږي له خير څخه او له شر څخه.

نو که انسان هره ورځ څو ساعته د ټولنيزو رسنيو بې گټې ويډيوگانو او عبثو تحليلونو ته ورکړي، بايد له ځان سره محاسبه وکړي چې د خپل عمر څومره برخه يې ضايع کړه؟ رسول الله ﷺ فرمايلي دي:« نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ ».(٢١)

ژباړه: دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک پکې تاواني دي: روغتيا او فارغ وخت.

امام مالك رحمه الله فرمايي:( أَنَّ الْوَقْتَ ذَهَبٌ).(٢٢)

ژباړه: بيشکه وخت سره زر دي.

که يو کس ووايي: «يوازې پنځه دقيقې به موبايل گورم.» پنځه دقيقې په نيم ساعت، نيم ساعت په دوو ساعتونو، او دوه ساعتونه په څو ساعتونو بدلېږي او ساعتونه په شپه او ورځ بدليږي او شپه او ورځ د عمر برخه ليک ټاکي.

که چيرې څوک په مبائل او ټولنيزو رسنيو کې مصروف شي، نو لمونځ به ورڅخه ځنډېږي يا به قضاء کيږي، د قرآن کريم تلاوت ورڅخه پاتې کېږي، د کورنۍ حق ورڅخه ضايع کېږي، د اولادونو په روزنه کې کمزورې راځي، په کار او وظيفه کې وخت ضائع کيږي او د انسان عمر په داسې شيانو کې تېرېږي چې نه د دنيا لپاره گټه لري او نه د آخرت لپاره گټه لري .

ډيری وخت په ادارو کې مسئو لين او کارمندان په ټولنيزو رسنيو کې مشغوله وي او خپلې وظيفې ته يې چندان توجه نه وي ، نو په کارونو کې سکته رامنځ کيږي او د مراجعينو حاجتونه نه پوره کيږي او دا کار د خلکو د نارضايتی سبب گرځي.

همدا وجه ده چې عاليقدرامير المؤمنين حفظه الله په يو شفوي هدايت کې امر کړی دی چې مفهوم يې داسې دی: ( نظامې او ملکي کار کوونکي دې په کار کې او په کور کې د ځيرک تليفونونو له استعمال څخه ډډه وکړي).

راځئ له ځانه وپوښتو : که چيرې هره ورځ دوه ساعته بې‌هدفه موبايل ته ورکړو، په يوه کال کې څومره عمر به مو له لاسه ورکړی وي؟

---

١٩ -العصر:( ١-٣)

٢٠ - تفسير ابن کثير / دار الفکر (٤ /٦٧١)

٢١ - صحيح البخاري ت (١٦ /٢١٢)

٢٢ - السنن الکبری للبيهقي. ط المعارف بالهند (١ /٣٨٧)

## دریم: د ټولنیزو رسنیو په ناوړه استعمال سره  مال ضائع کیږي.

ټولنیزې رسنۍ یوازې وخت نه اخلي؛ د انسان مال هم له منځه وړلی شي.

ځینې خلک د اعلانونو، غیرضروري خریدونو، آنلاین سوداګریزو توکو، بې‌ځایه سیالیو او د نورو د ژوند د ظاهري ښودنو له امله داسې مصرف کوي چې اړتیا ورته نه وي . خلک د ټولنیزو رسنیو د کتلو لپاره په لکونو پیسې مصرفوي ؛ځکه د اعلاناتو د کتلو، د خلکو سره په ساعتونو ساعتونو د قیصو کولو ، د فلمونو او سریالونو د کتلو ، د ټیک ټاک دکتلو ، د عبثو خبرو لپاره په ټولنیزو رسنیو روږدي خلک اړ دي چې زیاتې پیسې په مبائل کې واچوي ترڅو انټر نیټ ته لاس رسی ولري ، نو که چیرې دا مصارف وسنجول شي، نو دا مصارف د یو شخص میاشتنی عاید زیاته برخه پیسې د ټولنیزو رسنیو په ناوړه استعمال لګیږي او د خوراک ، څښاک ، دارو درملو او نورو ضروریاتو  په نسبت زیاتې پیسې د ټولنیزو رسنیو په ناوړه استعمال مصرفیږي، چې دا ښکاره تبذیر دی او بې ځایه اسراف دی او الله تعالی د تبذیر او اسراف څخه منع فرمایلې ده او تبذیر کوونکي یې د شیطان ملګري ګرځولي دي.

الله تعالی فرمایي:( وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا * إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ).(۲۳)

ترجمه:او اسراف مه کوه په اسراف کولو سره بېشکه چې اسراف کوونکي دي دوی ورونه د شیطانانو.

ټول مفسرین په دې خبره اتفاق لري، چې تبذیر مصرفول د مال دي د ګناه او په ناحقه لار کې.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي: (وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ).(۲٤)

ترجمه:او اسراف(بې ځایه خرڅ) مه کوئ تاسې بېشکه چې الله نه خوښوي بې ځایه خرڅ کوونکي.

مال په حقیقت کې د انسان سره د الله تعالی امانت دی او الله تعالی به یې د قیامت په ورځ دانسان څخه پوښتنه  کوي.

په حدیث شریف کې راځي. رسول الله ﷺ فرمایلي دي:«لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ ... وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ ؟».(۲۵)

ژباړه: د قیامت په ورځ به د بنده قدمونه تر هغه نه خوځېږي؛ څو د هغه له مال څخه پوښتنه ونه شي چې له کومه یې ترلاسه کړ او په څه کې یې مصرف کړ؟. د فیسبوک ، ټویټر، ګوګل او یوټیوب مالکان چې د نړۍ ملیونران دي دا زما او ستا په پیسو ملیونران شوي دي  او همدا ملیونران دي چې په نړۍ کې د مسلمانانو د ټکولو لپاره پیسې خپلو دولتونو ته ورکوي.

مسلمان باید د نورو خلکو د سرمایې د زیاتولو په هکله فکر وکړي او ددې قمار څخه ځان وساتي.

---

۲۳- الإسراء:( ۲٦-۲۷)

۲٤ - الأعراف:( ۳۱)

۲۵ - سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٦١۲)

**څلورم: د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال د مسلمان اخلاق بربادوي.**

د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال تر ټولو خطرناک زیان دادی چې د انسان اخلاق بربادوي. یو انسان چې هره ورځ دروغ، فحشا، بدې خبرې، سپکاوی، غیبت، تمسخر، بې‌حیایي او بد الفاظ ویني، که احتیاط ونه کړي، ورو ورو یې زړه ورسره عادت کیږي.

الله تعالی فرمایي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ وَلا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْراً مِنْهُنَّ وَلا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلا تَنَابَزُوا بِالأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الأِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ).[۲۶]

ترجمه:ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو!) ټوکې او سپکاوی دې نه کوي هیڅ یو قوم له تاسې څخه په بل قوم باندې ځکه ښایي چې وي به دغه( مسخره کړی شوی) بهتره او غوره(په نزد د الله) له دې (مسخره کوونکیو)څخه او (نه دې ټوکې او سپکاوی کوي) یو ټولی ښځې له تاسې په نورو ښځو ځکه ښایي چې هغه( مسخرې کړی شوی) به بهترې او غوره وي (په نزد د الله له دې مسخره کوونکیو څخه) او مه عیب جویي کوئ بعضې د تاسو د بعضې نورو ځکه چې بیا د تاسو عیب جویي هم کیږي (چې دا په حقیقت کې د ځان عیب جویي ده) او مه غواړئ تاسې یو تر بل په بد نومونو او القابو سره. بد دي دا درې نومونه د (سخریې ، تلمز، تنابز) له جهته د فاسقې وروسته له ایمان درلودلو څخه، او هغه چې توبه یې ونه ایستله ، نو دغه کسان همدوی دي ظالمان(پر ځانونو خپلو).

نن ځینې خلک په یوه تبصره کې د مسلمان عزت ماتوي، په یوه پوسټ کې یې سپکوي، په یوه ویډیو کې پرې ملنډې وهي، او په یوه پیغام کې یې غیبت کوي، چې دا کار د اسلامي اخلاقو منافي عمل دی.رسول الله ﷺ فرمایلي دي:«مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيصْمُتْ».[۲۷]

ژباړه: څوک چې پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري، باید ښه خبره وکړي یا دې چوپ پاتې شي.

دا حکم یوازې زمونږ د خولې لپاره نه دی؛ هغه څه چې په موبایل کې یې لیکو، زمونږ د اعمالو برخه هم ده. تبصره هم عمل دی. شریکول هم عمل دی. لایک هم د محتوا د ملاتړ وسیله کېدای شي. څوک چې ټولنیزې رسنۍ تعقیبوي هغه ته لوڅ عکسونه او د فحشاوو کلیپونه په ناڅاپي توګه مخې ته راځي او همدارنګه په ټولنیزو رسنیو کې اعلانات خپریږي چې دغه اعلانات د ښځو په لوڅو عکسونو او کلیپونو باندې مشتمل وي او په هره ورځ کتو سره یې انسان د فحشاوو او بې حیائیو سره اُنس پیدا کوي او په زړه کې یې ایماني غیرت کمزوری کیږي.

همدارنګه په ټولنیزو رسنیو کې په دوامداره توګه ددغو فحشاوو کتل ګناه ده او په دوامداره توګه ګناه د انسان په زړه باندې تور ټکې پیدا کوي. په حدیث شریف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:«إِنَّ العَبْدَ إِذَا أَخْطَأَ خَطِيئَةً نُكِتَتْ فِي قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ، فَإِذَا هُوَ نَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ وَتَابَ سُقِلَ قَلْبُهُ، وَإِنْ عَادَ زِيدَ فِيهَا حَتَّى تَعْلُوَ قَلْبَهُ، وَهُوَ الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَ اللَّهُ» {كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ}. [۲۸]

---

[۲۶] -الحجرات:( ۱۱)

[۲۷] -متفق علیه واللفظ لمسلم (۱ /۶۸)

[۲۸] - سنن الترمذي ت شاكر (۵ /۴۳۴) وقال الترمذي: «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» والآية من سورة المطففين:( ۱۴)

ژباړه: ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: بيشکه بنده چې کله يوه گناه وکړي ، نو د هغه په زړه کې يو تور ټکی پيداشي کله چې هغه د گناه څخه لاس واخلي او دالله تعالی څخه بښنه وغواړي او توبه وباسي(نو هغه تور ټکې لمنځه لاړشي) او کله چې بنده هغه گناه ته بيا ور وگرځي نو په هغه تور ټکي کې زيادت پيدا شي آن چې ټول زړه ونيسي، نو دا هغه ران ( توره پرده) ده چې الله تعالی يې په قرآن کريم کې ذکر کړی دی. {كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ}کامل مؤمن هغه دی چې ايماني غيرت ولري او د گناهونو په کولو سره د مؤمن غيرت کميږي .

په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ يَغَارُ، وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَغَارُ».[٢٩]

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه الله غيرت کوي او مؤمن هم غيرت کوي. (دالله تعالی د حقوقو د پايماليدو پروخت او دگناهونو او فواحشو د ظاهريدو پر وخت.)

## پنځم: د ټولنيزو رسنيو د ناوړه استعمال دماغي او جسمي زيانونه:

### الف: دماغي زيانونه:

د ټولنيزو رسنيو ناوړه استعمال لاندې ذهني او رواني زيانونه لري:

**۱- د ذهن تمرکز کمېدل.** د ټولنيزو رسنيو مسلسل استعمال انسان عادتوي چې په څو ثانيو کې له يوه مطلب څخه بل مطلب ته لاړ شي؛ يوه ويډيو، بيا بله ويډيو، بيا عکس، بيا خبر، بيا تبصره. دا ډول دوامداره مصروفيت د ژور فکر، مطالعې، عبادت او په خپل وخت د مهمو کارونو انجامولو په اړه د ذهن تمرکز کموي. انسان داسې حالت ته رسېږي چې اوږد کتاب نه شي لوستلای، اوږده وينا نه شي اورېدلای او په يوه کار کې اوږد وخت تمرکز نه شي کولای.

**۲-اضطراب او ذهني بې قراري.** د ټولنيزو رسنيو ډېر او ناوړه استعمال انسان د مسلسل خبرونو، ستونزو، شخړو او نورو خلکو د ژوند له صحنو سره مخ کوي. هره لحظه نوی خبر، نوې پېښه، نوې شخړه او نوې اندېښنه مخې ته راځي. که انسان خپل ذهن ته د دې معلوماتو د داخلېدو دروازه بې کنټروله خلاصه کړي، ذهن يې آرام له لاسه ورکوي.

**۳-د غوسې او رواني فشار زياتېدل.** په ټولنيزو رسنيو کې ډېر بحثونه له ادب څخه خالي وي. يو کس ليکنه وکړي، بل يې سپکاوی وکړي؛ يو نظر ورکړي، بل يې بد رد ووايي؛ بيا انسان په غوسه شي، ځواب ورکړي، بيا بل کس ځواب ورکړي، بالآخره انسان خپل ذهن د داسې شخړو په ميدان بدل کړي چې اصلاً ورسره تړاو نه لري. بل داچې که چيرې ټولنيزې رسنې په ناوړه توگه استعمال شي او ټوله شپه په وينښه ورته وکتل شي، سبا ته يې رواني فشار زيات لوړ وي او له امله يې زياته غوسه او قهر ورځي او په وړه وړه خبره قهرجن کيږي او له هر چا سره په شخړه او جگړه کې وي، چې دا يو ډول ذهني مريضي ده نو بايد چې ټولنيزې رسنۍ په سمه توگه استعمال شي. حال داچې هره تبصره ځواب نه غواړي، هر بحث گډون نه غواړي، او هره خبره د جنگ سبب نه ده.

---

[٢٩] - صحيح مسلم (٤ /٢١١٤)

**۴-یوازېتوب او له کورنۍ څخه فاصله.** څوک چې د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال کوي هغه تل کوښښ کوي چې له خلکو لرې او په خالي اطاق کې چیرته چې د خلکو خبرې نه وي ، ځان غلی او گوښه کړي.

ممکن یو انسان په یوه خونه کې له خپلې مېرمنې، اولادونو او کورنۍ سره ناست وي؛ خو ذهن یې په موبایل کې وي. پلار له زوی سره خبرې کوي، زوی موبایل ته گوري. مور له اولاد سره خبرې کوي، اولاد موبایل ته گوري. ټوله کورنۍ په یوه ځای کې ناسته وي، خو هر یو په خپل مجازي نړۍ کې وي، چې د اکارونه د کورني محبت او واقعي اړیکي کمزوري کولای شي.

رسول الله ﷺ فرمایلي: «خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ».(۳۰)

ژباړه:په تاسو کې غوره هغه دی چې له خپلې کورنۍ سره غوره وي. نو مسلمان باید د موبایل له امله د خپلې کورنۍ حقونه ضایع نه کړي.

**۵-د خوب گډوډېدل او ذهني ستړتیا.** ډېر خلک د شپې تر خوب مخکې اوږده موده موبایل استعمالوي؛ بیا ویډیوگانې، پیغامونه او ټولنیزې رسنۍ گوري.دا کار د خوب د نظم او کیفیت د خرابېدو سبب کېږي، او د خوب کمښت بیا د ورځې په جریان کې ستړیا او بد مزاجي رامنځته کوي

الله تعالی فرمایي:(وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا).(۳۱) ترجمه:او گرځولی دی مونږ خوب ستاسې قطع د کارونو آرام راحت (د بدنونو د تاسې).

نو خوب هم د الله تعالی نعمت دی؛ باید داسې عادت جوړ نکړو چې موبایل مو له دې نعمت څخه محروم کړي.

## ب: جسمي زیانونه:

له ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال یو شمېر روغتیایي زیانونه لري، چې مهم یې په لاندې ډول دي:

**۱ ـ د بدن پر مهمو غړو احتمالي زیانونه.** د ټولنیزو رسنیو ناوړه او زیات استعمال د ښنتورگو، پوستکي او دماغو ته خطرونه پیښوي ، او سترگې له هغو غړو څخه دي چې تر ټولو زیات ورسره مخ کېږي.

**۲ ـ د سر درد او نورو روغتیایي ستونزو رامنځته کېدل.** د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال د سر درد او اضطراب په څېر ستونزې رامنځته کوي، او د ځینو جدي ناروغیو د خطر په اړه هم اندېښنې مطرح شوې دي.

د ټولنیزو رسنیو کې کاریدونکې وسائلو د برېښنایي ـ مقناطیسي څپو د اغېزو په اړه ادعا شوې چې کېدای شي د مزمن سر درد، فشار، عصبي غبرگونونو، ستړیا او ځینو نورو روغتیایي ستونزو سره تړاو ولري.

**۳ـ پر حافظه او دماغي فعالیت اغېز.** د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال د حافظې پر فعالیت منفي اغېز کوي او د دماغي فعالیتونو په اړه اندېښنې رامنځته کوي.

---

۳۰ - سنن الترمذي ت شاكر (۵/ ۷۰۹)

۳۱ -النبأ:( ۹)

**۴ـ سستي، بې‌حالي او چاغوالی.** د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال انسان په فزیکي او ذهني لحاظ سستوي او انسان کم‌تحرکه کوي او د بې حالی سبب گرځی، چې کم تحرکي د چاغوالي او د کولسترولو او ټایگلسرید د زیاتېدو سبب گرځي.

**۵ـ د غاړې او ملا ستونزې.** د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال د غاړې درد، د ملا درد او د ملا د کږېدو د ستونزو باعث گرځی.

**٦ـ د عضلاتو او لاسونو ستونزې.**د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال او اوږده موده په یوه ثابت حالت کې پاتې کېدل او د ټولنیزو رسنیو وسایلو تکراري استعمال د لاسونو او گوتو د شخیدو او نورو غړو د رپېدو سبب گرځي.

**۷-د ماشومانو اعتیاد .** د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال په ماشومانو کې بد اخلاقي ، له درسونو سره کم میلي، انزوا او د کور څخه فاصله نیول، ځینې عقلي او عصبي ناروغۍ هم را منځ ته کوي.

**۸-بې خوبي.** هغه ځوانان چې د ټولنیزو رسنیو په ناوړه استعمال روږدي شوي وي ، هغوی ټوله شپه په مبائلونو کې مشغوله وي

او شپه په ویښه تیروي او سبا ته ویده وي چې د ژوند ، درس او پرمختگ چارو څخه محرومیږي.

## ټولنیزې ستونزې:

**۱-ټولنیزه انزوا :** د ټولنیزو رسنیو ناوړه او زیات استعمال د ټولنیز انزوا سبب کیږي، چې ټولنیز شاتگ هم ورته ویل کېږي. له همدې امله ماشومان او ځوانان باید د سالمو ټولنیزو اړیکو او مؤثرې خبرې اترې مهارتونه زده کړي ځکه دا مهارتونه د هغوی د ټولنیز او مسلکي بریالیتوب لپاره مهم دي.

**۲-د تاوتریخوالي او تهاجم اغېز.** ټولنیزو رسنیو کې د ماشومانو لپاره ډېری بریښنایي لوبې، د جگړو، شخړو او وژنو پروگرامونه موجود وي، چې په ماشومانو کې د تاوتریخوالي او تهاجمي چلند تمایل زیاتوي.

په دغو لوبو او وسایلو د اعتیاد په صورت کې په ځوانانو او ماشومانو کې ناوړه عادتونه رامنځ ته کوي: تاوتریخوالی؛ اضطراب؛ رواني فشار؛ عصبانیت او ژر غوسه کېدل. ماشومان کېدای شي ځینې بدې جملې، ناسمې خبرې او داسې چلندونه هم زده کړي چې له دیني او ټولنیزو ارزښتونو سره مناسب نه وي او خلک ترې زړه توري کړي.

**۳- اخلاقي مشکلات :** د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال له امله کیدای شي چې ماشومان داسې ویب‌پاڼې او محتوا هم وگوري چې د هغوی د عمر لپاره مناسبه نه وي، او دا کار یې: اخلاق؛ دین؛ فکر؛ له خطر سره مخ کړي.

**اقول قولي هذا ، استغفرالله لي ولکم ولجمیع المؤمنین.**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**